**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

# د دولت د رهبرۍ لپاره د ښځې نومول د اسلام له اصولو سرغړونه ده

**(ژباړه)**

دریو فیمنیستي ډلو د سوډان لومړي وزیر عبدالله حمدوک ته د ولایتي رهبرۍ لپاره د دولت د دندو د لایحې سره سم د خپلو ښځینه نوماندانو لیستونه سپارلي دي. پهدې ډول دوی هڅه کوي چې د «عدالت ارزښت» چې دوی یې د قایمولو لپاره تل هڅه کړې، په یو ژوندي واقعیت بدل کړي. د دې کمېټې په اعلامیه کې راغلي چې د دوی موخه د قواعدو او د غړیتوب د اصولو سره سم د والي د دندې لپاره د ملکي خدمتونو په برخه کې د تجربه لرونکو، وړ او داسې ښځو نومول دي چې د مدیریت یا ستراتېژیک پلان په برخه کې د والي دندې د ترسره کولو وړتیا ولري. همدارنگه دا نوماندانې باید د ښځو حقوقو ته پوره ژمنتیا ولري. (التغیر، ۲۰۲۰ م کال د مې اول)

اې د الله سبحانه وتعالی له لارې څخه گرځېدلو فیمنیستي ډلو! د مساواتو پر بنسټ د عدالت نظر یو پردی نظر دی، دا نه د عدالت پر اساس رامنځته شوی او نه له اسلام سره کومه اړیکه لري. د دغه نظر مطابق ریښتینی عدالت په حقوقو، دندو او د قانون پر وړاندې د افرادو ترمنځ مساوات دي او د دوی ترمنځ هر ډول توپیر بې عدالتي گڼل کېږي. دا په داسې حال کې ده چې ښځې په

غرب کې د دغه اصل د پلي کېدلو څخه ستړې شوي، هلته کورنۍ ړنګې شوې او ښځې د نارینه وو پر وړاندې تعصبي شوي دي؛ ځکه د دوی حقوقو ته د عدلت له زاویې نه، بلکې د برابرۍ له زاویې کتل کېږي. د دې پر ځای چې بهرنۍ ناکامه تجربه بیا تکرار نه شي، د دې پرځای چې د هغه چا ننګه وشي چې په اسلامي ټولنه کې غربي ژوند تحلیلوي او فسق خپروي، موږ باید خپل دین او ارزښتونو ته مخه کړو او د هغه پیروي وکړو؛ ځکه دغه الهي ارزښتونه له وړاندې ازمایل شوي او د ټولنې د غوره رهبرۍ لپاره ځانګړي اصول او ښځه او نارینه دواړو پکې د داسې حقوقو څخه برخمن دي چې په هغه کې د الله سبحانه وتعالی عدالت نغښتی دی.

**اې مسلمانانو!** اسلام د نارینه او ښځینه لپاره د عامه احکامو په ګډون مختلف احکام لري، د دوی په منځ کې داسې احکام شته چې یوازې ښځو ته ځانګړي شوي او همدارنګه داسې احکام هم شته چې یوازې په نارینه وو پورې تړلې دي او د نارینه او ښځو پروړاندې پر توپیر قایل دي. الله سبحانه وتعالی امر کړی چې هر یو دې پر هغه حکم قناعت وکړي چې د دوی ځانګړنه ده او دوی یې یو د بل پر وړاندې له کینې او نارضایتۍ څخه منع کړي دي. الله سبحانه وتعالی فرمایلي دی:

[وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْراً أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالاً مُّبِيناً]

**ژباړه:** *هېڅ مومن او مومنه دا حق نه لري چې کله الله سبحانه وتعالی او د هغه رسول صلی علیه وسلم د کومې معاملې فیصله وکړي او بیا د الله سبحانه وتعالی او د هغه د رسول خلاف هغه په خپله د هغه معاملې د فیصله کولو اختیار ولري. څوک چې له الله سبحانه وتعالی او د هغه د رسول صلی علیه وسلم څخه سرغړونه وکړي، هغه به په ښکاره ګمراهۍ کې ولوېږي. [احزاب:۳۶]*

په دې ډول د یوې ښځې لپاره دا جایز نه دي چې قضاوت وکړي. ښځه حاکمه کېدای نه شي او د حاکمیت موقف نه شي ورکول کېدای؛ ځکه چې شریعت حکم کړی چې حاکم به نارینه وي. له ابوبکر صدیق څخه روایت دی، چې ده وفرمایل، کله چې رسول الله صلی علیه وسلم ته خبر ورکړل شو چې د کسرا لور «چسروس» پر دوی سلطنت کړي، نو ده مبارک وفرمایل:

**«لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمْ امْرَأَةً»**

**ژباړه:** *هغه خلک به هېڅ وخت بریالي نه شي، چې ښځه یې رهبري کړي. (بخاري)*

چې رسول الله صلی علیه وسلم دا ښکاره کړې چې هغه خلک نه بریالي کېږي چې واکمنه يې ښځه وي، نو د دې مطلب دا دی چې ښځې ته د دې اجازه نه ده ورکړل شوې چې دغه موقف ته ورسېږي. لکه څنګه چې د حديث بيان د غوښتنې په ډول دی او د افتراً په شکل راغلي، نو دا قرينه کېږي، له همدې امله د يوې ښځې د حاکميت تاکل حرام دي.

د نبوت پر منهج د راشده خلافت (ريښتيني خلافت) د تاسيس له لارې ژوند ته د اسلام د راګرځولو مبارزه هغه وياړلې مبارزه ده چې هر مسلمان يې بايد ترسره کړي او دا د هغه فيمينستي انجمنونو سياسي څانوژنه نه ده چې د غربي پانګوالو د اجنډا، موخو او پلانونو د پلي کولو لپاره کار کوي او نن ورځ ښځې د پانګوال نظام تر حاکميت لاندې د هغه پر وړاندې خنډ ګرځي.

## د حزب التحرير ـ ولايه سوډان د ښځو د څانګې ویانده

**۱۴۴۱هـ.ق کال، د رمضان ۸ مه**

**۲۰۲۰ م کال، د مې اوله**

**د صدور ګڼه: ۹/۱۴۴۱**